

# د کوېډ-۱۹ په هکله د جنډر پوهاوی | افغانستان

د ۲۰۲۰ کال د اپرېل د میاشتې ۳۰مه نېټه

## ۲ ګڼه: د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي قربانیانو لپاره خدمتونو ته د لاسرسي باوري ګڼول

د جنډر اړوند حساس بشري غبرګن د باوري کولو په ارتباط د کووېډ-۱۹ له امله د جنډر د لومړنۍ ګڼې پوهاوي په تعقیب په افغانستان د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر لخوا دا د پوهاوي دویمه خپرېدونکې ګڼه ده چې په افغانستان کې د کووېډ-۱۹ وبا له امله د پر جنډر د آغېزو دوام څرګندوي. د پوهاوي دا دویمه ګڼه د هغو ښځو او نجونو لپاره د (روغتیا، پولیسو، عدلي او قضایي، ټولنیزو خدمتونو او د دغو خدمتونو د همغږۍ) په ښېر خدمتونو د تأمین په موخه پر تمایلاتو او وړاندیزونو تمرکز کوي چې د کووېډ-۱۹ وبا پر مهال تاوتریخوالي سره مخامخ کیږي. د دغې ګڼې په ترڅ کې د تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره کیفیت لرونکو او همغږو خدمتونو ته د لاسرسي پر لومړیتوب رڼا اچول کیږي. د پوهاوي د دا ډول راتلونکو ګڼو په ترڅ کې به د ښځو، سولې او امنیت او اقتصاد د برخو په ګډون د کووېډ-۱۹ وبا له امله د جنډر اړوند مشخصو ملاحظاتو د تحلیل او څېړنې ترڅنګ په افغانستان کې پر ښځو او نجونو د کووېډ-۱۹ وبا د آغېزې په منظم ډول تازه مالومات وړاندې کړل شي. په نوموړي پوهاوي کې د ملي او نړیوالو شریکانو د پاملرنې په موخه د لومړنیو سپارښتنو یوه ټولګه شاملیږي، ترڅو د ښځو او نجونو ر وړاندې د تاوتریخوالي (VAWG) مخه ډب او هغې ته ځواب ووایي. د کوېډ-۱۹ وبا د مودې په ګډون په افغانستان کې د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر د ښځو د حقونو د پرمختګ ترڅنګ د ښځو او نجونو د اړتیاوو تحقق ته ژمنه ده. په دغه پوهاوي کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي او خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د کوېډ-۱۹ وبا له امله پر جنډر پورې د اړوندو آغېزو په هکله د پام وړ بحث لپاره د اساس رامنځ ته کولو په وسیله د پورته ذکر شوي هدف په هکله خدمتونه شاملیږي. د دغو پوهاویو یا مالوماتو په ترڅ کې د تشخیص شویو او وړاندې شویو تمایلاتو په ارتباط ارزونه، همغږي او ځواب ویل شریکانو ته فرصت ورکوي، ترڅو د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنې او غبرګون اړوند مسایلو د انسجام په موخه ګډ کار وکړي او په دې ډول د بشري غبرګون په ترڅ کې د جنډر اړوند ملاحظات بشري ټولنیزې اړتیا ته په پام سره ښځو او نجونو د ګټې په موخه بشپړ کړي.

## د کوېډ-۱۹ شرایط او پر جندر یې د پام وړ آغېزې

ناورین د عمر، جندر او معلولیت له پلوه د نابرابریو د زیاتوالي سبب کیږي او ښځې، نجونې او زیانمنونکي خلک د تاوتریخوالي په زیاتیدونکي خطر کې اچوي. د ورکړل شویو راپورونو له مخې هغه کورنۍ تاوتریخوالی چې دوی ورسره مخامخ کیږي ښایي د تاوتریخوالي تر ټولو عام ډول وي چې په بېړنیو حالتونو[1] کې یې ښځې او نجونې تجربه کوي، او په پایله کې یې د دوی د شدید فزیکي او رواني زیان سبب کیږي. په کورونو کې د ښځو او نجونو لخوا په تجربه شوي تاوتریخوالي کې د خپل خاوند او کورنۍ د نورو غړیو د بېلګې په توګه د خسرګنۍ لخوا تاوتریخوالی شامل لیږي. تجربې په نورو ټولنو کې ښودلې ده چې د ناورین په حالت کې د تاوتریخوالي ډېر ډولونه زیاتېږي، چې په دې کې انسان تښتونه، د ماشومانو ودونه او نور مضر روښونه او رواجونه شاملېږي. ښځې او نجونې په ټولو ناورینونو کې د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې د ځانګړي خطر سره مخامخ .[2] له چین نیولې بیا تر ایټالیې، برازیل او لبنان پورې په کورونو کې د ناوړه ګټې اخیستنې د کچې د لوړوالي په اړه ډېر راپورونه ورکړل شوي دي.[3] د بېلګې په توګه، په هوبې ولایت کې چې د کورونا وایروس د خپریدلو لومړنۍ ځای دی، د فبروري میاشتې د ټولبند پر مهال پولیسو ته د کورني تاوتریخوالي په اړه ورکړل شوي راپورونه درې برابره ډېر شوي وو.[4] د کاتالان د ځایي حکومت په قول چې د دوی د کورني تاوتریخوالي مرستندویه لیکې (hotline) سره د ټولبند په لومړنیو څو ورځو کې د تماسونو کچه تر ۲۰٪ پورې لوړه شوې وه. په قبرس کې، د مارچ له ۹ وروسته اونۍ کې د ورته لیکې (hotline) سره د اړیکو مېزان تر ۳۰٪ پورې لوړه شوې وه، دا کچه په یاد ټاپو کې د کورونا وایروس د لومړنۍ پېښې له تثبیت وروسته لوړه شوې وه.[5] دا مالومات یواځې تر هغو مالوماتو پورې محدود دي، چې ښځو په کې د مرستې غوښتنه کړې ده. ډېرې ښځې او نجونې د ځینو دلایلو له امله د مرستې غوښتنه نه شي کولی چې په دې کې دا وېره هم شامله ده چې د زنګ وهلو پر مهال به یې مقابل لوری خبرې واوري، یا نشي کولی چې خپل کورونه پرېږدي. پورته ذکر شوي مسایل تر ډېره بریده د افغانستان له شرایطو سره مطابقت لري. افغانستان په ۲۰۱۹ کې د جندر د پرمختګ اړوند شاخص له پلوه، هغه شاخص چې له مخې یې د جندر برابري ارزول کیږي، د نړۍ د ۱۸۹ هیوادونو په ډله کې ۱۷۹ مقام درلود.[6] ښځې ښوونې او روزنې، مالي خپلواکۍ، او سیاسي ګډون ته محدود لاسرسی لري، چې دا ټول د دوی په ژوند کې د پام وړ خنډونه ګڼل کیږي. په افغانستان کې ښځې او نجونې په دوامداره توګه له تبعیض، تاوتریخوالي، جنسي ځورونې، اجباري او په ماشومتوب کې واده، له کوره بهر کار کولو او زده کړو اړوند جدي محدودیتونو، او عدالت ته د محدود لاسرسي سره مخ دي. له کووېډ-۱۹ وبا مخکې هم د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالی عام وه. د راپورونو له مخې ۸۷٪ ښځو د ژوند د شریک لخوا د تاوتریخوالي یو ډول تجربه کړی دی.[7]

د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالی د مستقیمو او اوږدمهاله فزیکي، جنسي او رواني آغېزو په ګډون چې په ټولنه کې یې د بشپړ فعالیت مخنیوی کوي د ښځو او نجونو لپاره د پام وړ منفي پایلې له ځان سره لري. همدارنګه د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالی د قربانیانو، د دوی د کورنیو، ولسونو او ټولنې لپاره د پام وړ اقتصادي لګښتونه هم له ځانه سره لري. دا د بېوزلۍ د له منځه وړلو او هراړخیز، پایېدونکي پرمختګ او سولې پر وړاندې یو له اساسي خنډونو څخه ګڼل کیږي. پر ښځو او نجونو د تاوتریخوالي آغېزې په داسې شرایطو کې نورې هم سختېږي چې هلته د تاوتریخوالي کچه، شدت او تکرار مخ پر زیاتیدو وي.

د کووېډ-۱۹ وبا به اړینو خدمتونو او سرچینو ته د ښځو لاسرسی نور هم محدود کړي. د یادونې وړ ده چې د اوسنۍ خپرېدونکې وبا څخه وړاندې هم ډېرو زیانمنو/قربانیانو د خپل خوندیتوب، ساتنې او رغیدنې لپاره د مرستندویه لیکې (hotline)، پولیسو او عدلي سکتور د غبرګون، روغتیایي مراقبت، خوندي استوګنځای او سلا مشورو په ګډون بنسټیزو خدمتونو ته کم لاسرسی درلود. د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي اړوند خدمتونه تر ډېره بریزده یواځې د ښاري سیمو په حدودو کې د لاسرسي وړ دي، او د دې ټولنیز پوښښ هم ډېر محدود، او ډېرۍ وختونه د بودجې د کمښت، کارکوونکو د کمښت او مسلکي پرسونلو د کمښت ترخنګ د نورو خدمتونو سره هم هېڅ ډول همغږي نه لري. په افغانستان کې یواځې

[1]Think Global Health. Julia Smith. Gender and the Coronavirus Outbreak. 4 February 2020. https://www.thinkglobalhealth.org/article/gender-and-coronavirus-outbreak
[2]UNDP (2019).
[3]Global Rights (2008). Living with violence: A national report on domestic abuse in Afghanistan.
[4]https://www.sixthtone.com/news/1005253/domestic-violence-cases-surge-during-covid-19-epidemic
[5]https://www.theguardian.com/society/2020/mar/28/lockdowns-world-rise-domestic-violence.
[6]United Nations Development Programme (2019). Gender Development Index (GDI), Human Development Reports.
[7]Global Rights (2008). Living with violence: A national report on domestic abuse in Afghanistan.

تر ۲۰٪ پورې هغو ښځو د مرستې غوښتنه کړې ده چې د تاوتریخوالي سره مخامخ دي.[8] ډېرى ښځې او نجونې د شرم، غچ اخيستنې له وېرې، او د لاسرسي وړ مرستې په اړه د نه پوهاوي، يا د لاسرسي وړ مرستې د نشتوالي له امله د خپلو تجربو په اړه خبر نه ورکوي.

د کوويډ-۱۹ وبا پر وړاندې په هراړخيزه غبرګون کې بايد داسې ګامونه شامل وي چې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتريخوالي مخه ونيسي او ځواب ورکړي. د خپلو مېنو له بېځايه کېدو، ټولنيزو جوړښتونو د له منځه تللو، قانون د تنفيذ د نشتوالي، جنډر ته د زيان رسوونکو نورمونو د لا سختيدو، او معيشت د فرصتونو له لاسه ورکولو له امله، په جګړييزو، بشري او روغتيايي ناورينونو کې ښځې او نجونې د تاوتريخوالي په زيات خطر کې واقع وي. په افغانستان کې به د کوويډ-۱۹ وبا نور ناورينونه، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتريخوالى نور هم پېچلى کړي. د ګرځبنديز پرمهال د خلکو ناسته پاسته تر خپلو کورونو پورې محدوديږي، د بېوزلۍ او بېکارۍ کچه لوړيږي او خونديتوب او روغتيايي سيستمونه کمزوري کيږي، نو په دا ډول شرايطو کې ښځې او نجونې په خپلو کورونو کې تر ډېره بريده د تاوتريخوالي د لا ډېر خطر سره مخامخ کيږي. په ورته وخت کې شايي د ښځو اړوند ژغورنې مراقبت او ملاتړ کچه هم د معاملې ښکار شي.[9] په افغانستان کې د کوويډ-۱۹ وبا له امله پر تګ راتګ د محدوديتونو تجربه کولو هم ډېرى هغه ښځې چې په کورونو کې د تېري کوونکي خاوند يا کورنۍ د نورو غړيو سره بندې پاتې دي د ډېر ناوړه چلند او تاوتريخوالي سره مخامخ دي، دا په داسې حال کې ده چې خدمت وړاندې کوونکو ته هم له عادي حالت څخه لاسرسى کم دى. په داسې وخت کې ښځې او نجونې له هر بل وخت څخه زيات خدمتونو ته د لاسرسي اړتيا لري، ثبوتونه ښيي چې شايي ياد خدمتونه کم شي ځکه چې سرچينې به يې له روغتيايي ناورين سره د مبارزې په موخه په نورو لارو چارو متمرکز کړاى شي. د بودجوي تمويل په برخه کې هغه نيمګړتياوې شايي نورې هم پراخې شي چې لا له وړاندې موجودې وي.

د تاوتريخوالي د ويجاړوونکې اغېزې راکمولو لپاره، د تاوتريخوالي قربانيانې ښځې او نجونې بايد داسې خدمتونو ته لاسرسى ولري چې د دوى بېلابېلو اړتياوو ته ځواب وايي: د روغتيا مراقبت سيستمونو او عدلي او قضايي، د پوليسو او ټولنيز ملاتړ خدمتونو ته. د خدمتونو په وړاندې کولو او همغږۍ کې پانګوونه کول د کوويډ-۱۹ وبا پر مهال د تاوتريخوالي د قربانيانو د اړتياوو ځوابولو لپاره اړين دي، ترڅو د قربانيانو پر روغتيا، هوساينه، اداري او غښتلتيا باندې د تاوتريخوالي آغېزې راکمې او هم د تکراري تاوتريخوالي مخه ونيسي. دا ډول پانګوونه به نه يواځې د قربانيانو د فردي اړتياوو ځواب ووايي، بلکې د جنډر برابري، پايېدونکى پرمختګ او د سولې فعاليتونو ته به هم وده ورکړي.

## د پاملرنې وړ ځانګړې موارد

### د ښځو او نجونو پر وړاندې زياتيدونکى تاوتريخوالى:

شواهدو ته په پام سره په ټول افغانستان کې د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتريخوالى زيات شوى دى. مرستندويه ليکه (hotline) د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتريخوالي اړوند اړيکو کې د پام وړ زياتوالى څرګندوي. غېرې دولتي اداري او مدني ټولنې د ترلاسه شوو قضيو په شمېر کې د ورته زياتوالي خبر ورکوي.

### د تاوتريخوالي د قربانيانو لپاره هراړخيز خدمتونه:

په داسې حال کې چې د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتريخوالى مخ پر ډېرېدو دى، د روغتيا مراقبت يا پاملرنې، پوليسو، عدلي او ټولنيزو خدمتونو په ګډون د قربانيانو لپاره د خدمتونو وړاندې کول، د بحران يا ناورين له کبله په ځانګړې ډول اغېزمن شوي دي. د بېلابېلو سکټورونو تر منځ په همغږي غبرګون، ټولنيز واټن او د ټولبند نه مراعتول مختلف سکټورونه د تاوتريخوالي سره د مخامخ شويو ښځو او نجونو لپاره د ملاتړ په تأمينولو کې د ننګوونې او ستونزې سره مخامخ کړي دي. د کوويډ-۱۹ د وبا په دوران کې د تاوتريخوالي قربانيانو ته د خدمتونو وړاندې کول اړين دي. تازه مالومات د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتريخوالي قربانيانو ته ملاتړ وړاندې کوونکو سکټورونو باندې د کوويډ-۱۹ وبا د آغېزو څرګندونه کوي:

- همغږي: د قربانيانو لپاره د خدمتونو همغږي د ټولبند او له لرې واټن څخه د کارکولو له امله آغېزمنه شوې ده چې نږدې په ټولو سکټورونو کې يې پر وخت د قربانيانو راجع کول، په ځانګړي ډول د سرپانه په موخه د دوى راجع کول آغېزمن کړي دي.

[8]Central Statistics Organization/Afghanistan, Ministry of Public Health/Afghanistan, and ICF (2017). Afghanistan Demographic and Health Survey 2015.
[9]UN Women (2020). COVID19- and ending violence against women and girls.

- روغتیایي خدمتونه: پر روغتیایي سیستم همهال له حده ډېر فشار او کووید-۱۹ وبا مخنیوي او غبرګون ته لومړیتوب ورکول د قربانیانو اړوند روغتیایي مراقبت یا پاملرنه د خنډ او ځنډ سره مخامخ کوي.[10] له حده ډېر روغتیایي خدمتونه او وایروس د خپرېدو له وېرې روغتیایي خدمتونو ته د قربانیانو لاسرسی محدودوي. د تاوتریخوالي تجربه کوونکو ښځو په ګډون د ښځو لپاره د جنسي او تولد او تناسل اړوند روغتیایي خدمتونه ښایي نور هم محدود شي.[11] د امنیت جدي پر اساس د غبرګون نشتوالی د قرنطین مرکزونه او تجرید ځایونه ښځې او نجونې د جنسي ځورونې او تاوتریخوالي د لا ډېر خطر سره موجه کوي.
- عدلي خدمتونه: دا چې د محکمو اجراآت ځنډول شوي دي، نو ناورین ښځې د خپلو قضیو د ثبتولو او پر مخ وړلو څخه منع کوي. په هغو ولایتونو کې چې ټولبند په کې لګول شوی دی، غیرې رسمي عدلي میکانیزمونه د کووید-۱۹ وبا د غبرګون په دوران کې له کاره لویدلي دي.
- پولیس: د نړیوالو شواهدو له مخې د امنیتي وضعیت له امله له مخکې ستړي شوي پولیس، د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي غبرګونونو ته کمه پاملرنه کوي، ځکه چې د دوی خپله ټوله پاملرنه د کوېډ-۱۹ ناورین ته د غبرګون اړوندو لومړیتوبونو، ټولبند او پلي کېدا وړ نورو تدابیرو ته واړولې ده.[12]
- ټولنیز خدمتونه: یو شمېر ټولنیز خدمتونه د کوېډ-۱۹ وبا له امله د نویو تحمیل شویو شرایطو سره عیار شوي دي، په ځانګړي ډول د کورنۍ د ساتنې او لارښوونې مرکزونه په دې توانیدلي دي چې په خوندي توګه فعالیتونه ترسره کړي او د تاوتریخوالي له قربانیانو څخه ملاتړ وکړي. سره له دې بیا هم، امنخونې په خوندي ډول د بحران یا ناورین د مدیریت په موخه د لاروچارو او ځای په لټه کې دي. د ځای او ازموینې د ټیټ ظرفیت د نشتوالي له امله، یو شمېر امنخونې د نویو ناروغانو/پېښو د ثبت توان او وړتیا نه لري. اوسمهال د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالي په برخه کې د بودجوي تمویل د سرچینو د نشتوالي له کبله د اړیکې ټینګولو مشخصه لیکه (hotline) شتون نه لري او د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي یواځینۍ ځانګړې مرستندویه لیکه (hotline) هم د روان کال د مارچ په ۲۴مه نېټه خپل فعالیتونه په ټپه درولي دي.

## خدمتونو ته لاسرسی:

په کومو مواردو کې چې خدمتونه شتون لري د تاوتریخوالي څخه ژغورل شوې ښځې او نجونې اوسمهال د ټولبند، خدمتونو د بندېدو، او مرستې غوښتلو د فرصت د نشتوالي له امله ملاتړ نشي ترلاسه کولای. دا په ځانګړې د لرې پرتو او هغو کلیوالي سیمو پر ښځو ډېر آغېز کوي چې په هغې کې خدمتونه هېڅ شتون نه لري یا هم د لاسرسي وړ نه وي. تر ټولبند لاندې ولایتونو کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي پای ته رسولو کې فعال غېرې دولتي او مدني ټولنې سازمانونه د تاوتریخوالي له قربانیانو څخه د اړیکو ترلاسه کولو او ارجاع شویو قضیو په شمېر کې د کموالي خبر ورکوي. دا د اندېښنې وړ موضوع ده ځکه چې ممکن ښځې او نجونې ملاتړ ته د لاسرسي څخه د برخمنېدو توان ونه لري. د وایروس د خپرېدو د مخنیوي په موخه په پام کې نیول شوي جدي تدابیر د هغو خلکو لپاره خنډونه جوړ او خطرونه زیات کړي دي چې د مرستې په لټه کې دي.[13] داسې اندېښنې موجودې دي چې د کووید-۱۹ وبا د ټولبند له کبله ښځې اوس د ګټه اخیستونکیو څخه د ژغورنې او دوستانو، کورنیو، خدمتونو د وړاندې کوونکیو یا د ښځو اړوند سازمانونو څخه د مرستې ترلاسه کولو ډېر محدود فرصتونه لري.

ښځې او نجونې، په ځانګړې ډول هغوی چې د تبعیض (لکه داخلي بېځایه شوې ښځې، په جګړو ځپلیو سیمو کې اوسیدونکې ښځې، د توکمیزو لږکیو ښځې، ډېر عمر لرونکې ښځې، فزیکي یا رواني معلولیت لرونکې ښځې، یا هغوی چې په کلیوالي او لرې پرتو سیمو کې ژوند کوي) د بېلابېلو ډولونو سره مخ دي، دوی ممکن خدمتونو ته د لاسرسي په موخه ګرځنده ټلیفون، کمپیوټر، یا انټرنیټ ته لاسرسی ونه لري یا هم دا چې دوی ممکن په کور کې له هر ډول اندېښنې پرته د یادو وسایلو د کارولو توان ونه لري ځکه چې د خپلو ناوړه ګټه اخیستونکیو لخوا په کلکه څارل کیږي. د افغانستان شرایطو ته په پام سره ښځې ګرځنده ټلیفونونو او انټرنیټ ته محدود لاسرسی لري؛ د بېلګې په توګه د ټلیفوني اړیکو له لارې د لرې واټن څخه د خدمتونو وړاندې کول آن د کوېډ-۱۹ وبا له خپرېدو څخه مخکې هم یو له خاصو ننګوونکو کارونو څخه ګڼل کېدو. دا کار خدمتونو ته د لاسرسي په موخه د ښځو او خدمتونو د دوام په منظور د خدمتونو وړاندې کوونکو وړتیا محدودوي. د غېرې دولتي سازمانونو ترڅنګ د مدني ټولنې

[10]UN Women, UNFPA, WHO, UNDOC and UNDP (2020). COVID19- and Essential Services Provision for Survivors of Violence Against Women and Girls.
[11]WHO (2020). COVID19- and violence against women - What the health sector/system can do.
[12]UN Women, UNFPA, WHO, UNDOC and UNDP (2020). COVID19- and Essential Services Provision for Survivors of Violence Against Women and Girls.
[13]https://www.theguardian.com/global-development/2020/apr/21/domestic-abuse-women-in-herat-afghanistan-may-survive-coronavirus-but-not-lockdown

سازمانونه خبر ورکوي چې دوی له هغو قربانیانو سره اړیکې له لاسه ورکړې دي چې دوی یې ملاتړ کاوه، ځکه چې دوی د تګ راتګ د محدودیت او قربانیانو لخوا ټلیفون ته د محدود خوندي لاسرسي له امله نور نشوای کولی چې دوی ته ځانونه ورسوي، او دا کار بیا په خپل وار سره د ناوړه ګټه اخیستونکو په مخکې د ټلیفوني اړیکې نیول یا ترلاسه کول شایي د دوی لپاره ډېر خطرناک تمام شي.[14]

همدارنګه د ټولنیز واټن له کبله هم ډېر غیري ضروري فعالیتونه آغېزمن یا ځنډیدول شوي دي، چې د سلامشورې، حقوقي مرستې، منځګړیتوب، او مسلکي روزنیزو پروګرامونو په ګډون د هغو ښځو او نجونو څخه ملاتړ تر خپلې سیورې لاندې راولي چې د تاوتریخوالی سره سرخ مخامخ دي. د کوویډ-۱۹ ناورین او پر روغتیایي غبرګون تمرکز هم په خپل وار سره د ټولنیز پرمختګ ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د هڅو په ګډون یو شمېر هغه پرمختیایي فعالیتونه په ټپه درولي دي چې له امله یې شایي په افغانستان کې د جنډر برابرۍ او ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو په لور د پخ پرمختګ کچه د لا ډېر ځنډ او خنډ سره مخامخ کړل شي.

## د هغو ګروپونو لپاره خدمتونه چې له پامه غورځول شوي دي:

د کوویډ-۱۹ ناورین کولای شي چې د له پامخ غورځول شویو ګروپونو د نابرابرۍ مېزان لوړ او وضعیت نور هم خراب کړي. د داخلي بېځایه شویو ښځو، په جګړو ځپلیو سیمو کې اوسیدونکیو ښځو، د توکمیزو لړکیو د ښځو، ډېر عمر لرونکیو ښځو، فزیکي یا رواني معلولیت لرونکیو ښځو، یا د کلیوالي او لرې پرتو سیمو اوسېدونکیو ښځو په ګډون هغه ښځې او نجونې چې د تبعیض د بېلابېلو ډولونو سره مخ کیږي، زیاتېدونکی تاوتریخوالی تجربه کوي او ممکنه د اړتیا وړ ملاتړ هم ترلاسه نه کړي.[15] د کوویډ-۱۹ وبا ناورین د تاوتریخوالي پر وړاندې د زیانمننې له وړاندې موجوده کچه لوړه او خدمتونو ته لاسرسی نور هم محدودوي. د تاوتریخوالي د هغو قرباني شویو ښځو په ګډون چې مقطعي تبعیض تجربه کوي، د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي اړوند خدمتونه، په ځانګړي ډول روغتیايي خدمتونه باید د ټولو هغو ښځو اړتیاوو ته ځواب ووایي چې تاوتریخوالی یې تجربه کړی وي. د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي او کوویډ-۱۹ د خطر کمول، د غبرګون پلانونه او خدمتونو وړاندې کول باید د ټولو ښځو او نجونو د غوښتنو او تجربو په رڼا کې ترسره کړل شي. د تاوتریخوالي تجربه کوونکو ښځو او نجونو پر هویت د مقطعي تبعیض پر اغېز پوهیدل او د کوویډ-۱۹ وبا پر مهال خدمتونو ته لاسرسی مهم دی، ترڅو د خدمتونو په وړاندې کولو کې نیمګړتیاوو په ګوته او ډکې کړل شي، او په دې برخه کې هېڅوک هم له پامه ونه غورځول شي.

## سپارښتنې:

**ټول لوبغاړي/فعالین باید:**

- د کوېډ-۱۹ وبا په ټولو ترتیباتو او پلانونو کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي څخه د خوندیتوب تدابیر شامل او د پلي کولو لپاره یې اضافي سرچینې ځانګړې کړي.
- د مدني سازمانونو په ګډون د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالي د خدمتونو وړاندې کوونکو لپاره بودجوي تمویل، تخنیکي ملاتړ او ټولو شخصي حفاظتي وسایلو وړاندې کولو ته لومړیتوب ورکړي، ترڅو د تاوتریخوالي د قربانیانو په موخه شخصاً یا همدا لرې واټن روغتیا مراقبت، د پولیسو او عدلي خدمتونو او نورو ټولنیزو خدمتونو ته خوندي او دوامداره لاسرسی باوري کړي. د هغو سازمانونو ملاتړ باوري کړي چې د ستونزمنو، لرې پرتو سیمو او زیانمنونکو وګړیو لپاره مرستې تأمینوي، په ځانګړې د هغو ښځو او نجونو لپاره چې د تبعیض د ګڼو ډولونو سره مخامخ وي.
- د ښځو د حقونو اړوند سازمانونو لپاره پروتوکولونه تهیه او پلي کړي، ترڅو د کوویډ-۱۹ وبا د مخنیوي او له ستونزې پرته فعالیتونو ته د دوام ترڅنګ د قربانیانو لپاره خدمتونه وړاندې کړي، په ځانګړې ډول د ښځو د خوندیتوب، کورنۍ د خوندیتوب، د کورنۍ د لارښوونو د مرکزونو او ښځو او نجونو خوندي په ځایونو کې.
- د قربانیانو د تشخیص، غبرګون، خوندیتوب او مناسبو خدمتونو ته د راجع کولو د څرنګوالي په برخه کې د خدمتونو د لومړۍ کرښې وړاندېکوونکو ته روزنه ورکړي او هم د اساسي ټولنیز روان مشورتي او مصونیت پلان جوړونې اړوند روزنیز پروګرامونه ترلاس لاندې ونیسي.
- د ښځو او نجونو پر وړاندې د زیاتېدونکو خطرونو په هکله د محلي مشرانو ټولنو، همکارانو او رسنیو سره ارتباطات ټینګ کړي او هم دا چې مرسته باید له چا او کوم ځایه وغوښتل شي.

---

[14]Ibid.
[15]UN Women, UNFPA, WHO, UNDOC and UNDP (2020). COVID19- and Essential Services Provision for Survivors of Violence Against Women and Girls.

- د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي او غبرګون د پلانونو ترڅنګ د کوېډ-۱۹ وبا اړوند چمتووالي او غبرګون د پلانونو په هکله د مالوماتو ورکولو په موخه د مدني سازمانونو سره سلامشورې، ګډ کار او ملاتړ ته دوام ورکړي.
- د خدمت یادداښتونه او راجع کولو لارېچارې تجدید، په موجودو خدمتونو کې بدلونونه منعکس، او د دغو نویو او تازه لاروچارو په هکله د مدني ټولنې خدمتونو وړاندې کوونکو او مهمو ټولنو ته خبر ورکړي.
- د ښځو او نجونو پر وړاندې پر تاوتریخوالي او خدمتونو پر وړاندې کولو سره د کوېډ-۱۹ وبا د آغېزې د درک په موخه د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالي د پېښو او غبرګون د خدمتونو د ظرفیت په هکله د جنسیت پر بنسټ تفکیک شویو مالوماتو خوندي راټولولو او کارولو ته وده ورکړي.
- د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي مرستندویه ټیلیفوني لیکې (hotline) د بیا فعالولو په منظور مالي او تخنیکي ملاتړ تأمین، او د ارجاع، حقوقي همکارۍ ټولنیز روان په اړه سلامشورې، او خوندي پلان جوړونې په ګډون د تاوتریخوالي قربانیانو لپاره کیفي مرستې تهیه کړي.
- د مخنیوي د هڅو، نافذو روښونو دودولو، موجودو خدمتونو د اساسي ملاتړ او ارجاع له لارې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي او غبرګون په موخه د روزنیزو پروګرامونو د ملاتړ ترڅنګ د روغتیایي ټولنې له داوطلبانو څخه استفاده کول.

**روغتیایی فعالان باید:**

- د کوویډ-۱۹ وبا د غبرګون اړوند مربوطه لارښودټکیو په موخه د افغانستان د جنډر پر بنسټ تاوتریخوالي ته په پام سره د GBV د یادداښت لارښوونې تعقیب کړي.
- د قربانیانو د تشخیص، غبرګون، خوندیتوب او مناسبو خدمتونو ته د راجع کولو د څرنګوالي په برخه کې د خدمتونو د لومړۍ کرښې روغتیایي مراقبت وړاندېکوونکو ته د اساسي ټولنیز روان د سلامشورې او خوندي پلان جوړونې په هکله روزنه ورکړي.
- په روغتونونو، کلینیکونو، قرنطین مرکزونو، ټاکل شویو ځایونو کې د انفرادي تجرید او روغتیایي مراقبت په منظور د تاوتریخوالي قربانیانو لپاره خوندي ځایونه تأمین او باروي کړي چې دوی شخصاً یا هم د لرې واټن څخه د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوال په تړاو د اړتیا وړ ټولو خدمتونو، په ځانګړي ډول د ټولنیز رواند د سلامشورې خدمتونه ترلاسه کوي.
- په ټولو روغتیایي مرکزونو (کلینیکونو، روغتونونو او قرنطین مرکزونو) کې د ښځو او نجونو لپاره ځانګړي مالوماتي ځایونه تاسیس کړي، چې په هغې کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي روزل شوی موردي کارکوونکی خوندي او د محرمیت په فضاء کې د کوویډ-۱۹ وبا، سلامشورو او خوندیتوب پلان جوړونې او لازمو خدمتونو ته د ارجاع په هکله لازم مالومات تهیه کړي.